
# ملا محمد عمر


ملا محمد عمر

ملا محمد عمر په ۱۹۵۹م کال د کندهار د ولایت د پنجوایي د اولسوالۍ سنګسار په کلي کي زېږېدلئ دئ.

کله چي شورويان افغانستان ته ننوتل نو ملا محمد عمر د نورو مجاهدينو په شان د شورويانو د يرغلګرو ځواکونو پر ضد په جهاد لاس پوري کړ.

داسي ويل کيږي چي د جهاد په دوره کي څلور ځله زخمي سوئ دئ. څه موده وروسته يې د پاکستان په يوه اسلامي مدرسه کي د اسلامي زده کړو په لوستلو پيل و کړ. د افغانستان څخه د شورويانو تر وتلو وروسته په هيواد کي غير انساني او غير اسلامي نا خوالو ملا محمد عمر بيا دې ته اړ کړ چي خپل جهادي ملګري سره را ټول کړي او د ټولو نا خوالو پر ضد و جنګيږي. هغه وو چي په ۱۹۹۶ کال کي قدرت ته و رسېد.



د ده د حکومت په دوره کي د هيواد چاري د اسلامي شريعت پر اساس مخته تلې. قاتلان (وژونکي) قصاصېدل، د غلا جزا د غلا سوي مال د اندازې سره سم د ګوتي او يا لاس پرېکېده وه. په هيواد کي د مخدره موادو استعمالول بند سول.

ملا محمد عمر ته د خپلو پلويانو د خوا د اميرالمومنين لقب ور کړه سو.

په ۲۰۰۱ کال کي چي په امريکا کي د نړۍ د سوداګرۍ مرکز را و نړېد نو د امريکا حکومت دا کار د القاعدې له خوا و باله او داسي يې ويل چي د دې حرکت مرکز په افغانستان کي دئ.

د دې د پاره چې امریکایان دغه مرکز د منځه یوسي ځکه یې پر افغانستان حمله و کړه او د طالبانو حکومت یې د ۲۰۰۱ کال د اوکتوبر په میاشت کې له منځه یووړ. تر دې وروسته ملا محمد عمر په یوه نامعلوم ځای کې ژوند کوي.